
مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۶/۰۵/۰۱

# زمـا قلم زمـا تعليم او زمـا ژونـد مباح دی




زما په ويـنـو دې بېلماځـه لـبـاسـونـه نشي
لړ يې په ورو را غورځوه خوړ دې بمونه نشي

زمـا قلم زمـا تعليم او زمـا ژونـد مباح دی
چېرته زما په زندی ستړي دې لاسونه نشي

خير دی چې چېرته و لښکر پته به زه درکوم
موړه بې شمېره يو چې کم دې راکټونه نشي

ستا نـازولي پـيلوټـانــي زمونږ ګلک جسمونه
زمونږ بمبار باندې يې ستړي اندامونه نشي

مريده پټې ترې زمونږ د وينو داري نه کړې
درنه ناراضه د پيرانو پاک روحونه نشي

موږ د ښېړو جواز هم نه لرو ډاډه دې ګرځي
چېرته خپه چې پرې باوره د چا زړونه نشي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ